USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# معلوماتي پاڼه

Date: August 2015
Office: +93 (0)700 11 4015
E-mail: kabulusaidinformation@usaid.gov
Website: http://www.usaid.gov/afghanistan

## د روغتیا د پالیسۍ پروژه (HPP)
## د ۲۰۱۲ کال د مې څخه د ۲۰۱۵ کال تر اګست پورې
## ۲۹ میلیونه ډالره

### لنډیز

د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د روغتیا د پالیسۍ پروژه (HPP) د روغتیا د سکتور د تنظیم، د خصوصي سکتور سره د افغانستان د عامه روغتیا وزارت د فعالیتونو د همغږۍ او په دې وزارت کې د مالي چارو د مدیریت د ښه کولو په برخه کې د نومړي وزارت د ورتیا د لوړولو په برخه کې کار کوي. دا پروژه همداراز د مختلفو روغتیايي خدمتونو او محصولاتو د موجودیت او د هغوی د تقاضا د لوړولو په برخه کې کار کوي.

### فعالیتونه

- **د عامه روغتیا وزارت د مشرتابه پیاوړتیا:** د قانوني چوکاټونو د رامنځ ته کولو او د دولتي-خصوصي روغتونونو تر منځ د لویو مشارکتونو د مدیریت لپاره د نومړي وزارت د دولتي-خصوصي مشارکت د څانګې د ظرفیت د جوړولو له لارې په غوره توګه د خصوصي سکتور څخه د څارنې په موخه د عامه روغتیا وزارت ته د تخنیکي مرستو برابرول.
- **د عامه روغتیا وزارت د روغتیايي اقتصاد او مالي چارو د ریاست پیاوړتیا:** د روغتیايي خدمتونو د ترسره کولو د اقتصادي بار د راکمولو لپاره د عوایدو د بدیلو سرچینو د پېژندلو په موخه د عامه روغتیا له وزارت څخه ملاتړ. ددې پروژې موخه همدارنګه د عامه روغتیا وزارت د وړتیا لوړول دي ترڅو په مرکزي او لایتي کچو د روغتیا د سکتور د مالي چارو د مدیریت څارنه وکړي.
- **خصوصي سکتور:** د روغتیايي توکو لکه د زېږونونو ترمنځ د وقفې د راوړلو د درملو د کیفیت د ښه کولو او د راپور ورکولو د سیستم د پلي کولو له لارې د پالیسۍ د پیاوړتیا لپاره د خصوصي روغتیايي سکتور د ټولنو او بنسټونو روزنه.
- **ټولنیزه بازارموندنه او د چلند بدلون:** د زېږونونو ترمنځ د وقفې د راوړلو د درملو، په ځانګړو ځایونو کې د ښنباک د اوبو د محلولونو او همدارنګه د نس ناستي (اسهال) د درملنې په موخه د ځانګړو مالګو/پوډر (ORS) ویش او هغوی ته د خلکو د تقاضا پیدا کول، او همداراز د راډیویي او تلویزیوني پیغامونو جوړول او خپرول ترڅو د افغانانو ترمنځ د سمو او روغتیايي لارو چارو د استفادې لامل شي.
- **جندر:** په ملي کچه د روغتیايي خدمتونو ترسره کونکو ته د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه د روزنې د ورکولو له لارې د جندر د ملي ستراتېژۍ د پلي کولو په موخه د عامه روغتیا وزارت د جندر د ریاست څخه ملاتړ کول.

### لاسته راوړني

- د قوانینو څخه د یوې ارزونې ترسره کول ترڅو د خصوصي روغتیايي مرکزونو د مقررې د پلي کولو لپاره د عامه روغتیا وزارت د چمتووالي کچه معلومه کړي.
- د عامه روغتیا له وزارت سره د خصوصي سکتور د جوازونو د ورکړې او یوې داسې واحدې مرجع (ONE STOP SHOP) رامنځ ته کول چېرې چې د خصوصي سکتور د هغو روغتیايي خدمتونو ترسره کوونکو ته معلومات په واک کې ورکول کېږي، چې غواړي جواز ترلاسه کړي.
- د خصوصي روغتیايي مرکزونو لپاره د جواز د فورمو او د مراکزو د معیارونو جوړول.
- د هېواد په کچه د ۳۶۷۹ رسنیو له لارې د زېږونونو ترمنځ د وقفې د راوړلو د درملو، د اوسپنې د مکملو درملو، او د ماشوم د ژوندي پاتې کېدو د روغتیايي توکو په کېدون، له ۴۵ میلیونه څخه د زیاتو روغتیايي محصولاتو د سب سیډي شوي خرڅلا تسهیل.
- د جنیست پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو د درملنې په موخه د خصوصي سکتور د ۲۰۰ څخه زیاتو روغتیايي خدمتونو ترسره کوونکو روزنه.
- دداسې راډیویي پیغامونو خپرول چې موخه یې له وخت څخه د مخه ودونو چې ښځې او نجونې د زیات جنسي، فزیکي او رواني خطر سره مخ کوي، مخنیوی کول دي.
- په څلورو ولایتونو (کابل، کندهار، ننګرهار او هرات) کې په ۲۱ روغتیايي مرکزونو کې د جنسیتي حساسیت د ارزونې په لاره اچول. دا ارزونه چې روغتیايي مرکزونو کولای شي له هغه څخه د روغتیايي خدمتونو په ترسره کولو کې د جندر د موضوع د شمولیت څرنګوالی معلوم کړي، ګټه واخلي.
- د عامه روغتیا له وزارت څخه یې کلک ملاتړ وکړ ترڅو د روغتیايي معلومات د مدیریت سیستم ته د جندر ۱۳ نوي شاخصونه ورشامل کړي ترڅو یې پر مټ د جندر سره د اړخ لګوونکو خدمتونو پرمختګ تعقیب کړل شي.